د انترنټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی : عـزیـزاحمد خـوارمل

# آبزرور: دطالبانوسره دسعودی عربستان اودانګلیس پټې خبرې يې اشوا(افشا) کړې



یوی انګلیسی ورځپاڼی "آبزرور" په یوځانګړی راپور کې دطالبانودیوجګپوړی چارواکی سره دانګلیس اودسعودی عربستان په ملاتړ دترسره سووپټوخبراتروپه هکله: ددی اونی په ګڼه کې ولیکل : پورتنی بی سارې خبراتری چې دطالبانودیوجګپوړی چارواکی په ګډون سره دطالبانوددوو نروپخوانیو چارواکو په منځګړی توب سره رامنځته سوی دی ،ددی مسئلی دحل په اړه دغه دوه تنه اوس دکابل ،پاکستان ،سعودی عربستان اودلویدیزو هیوادونووپلازمینوته په تګ اوراتګ دي .
ددی راپورپربنسټ انګلیس ددغوخبراترولوژیستیکی او دپیلوماتیک ملاتړ يې په خپله غاړه اخیستی دی اودا په داهسيې حال کښې دی چې رسمی بیانی ددی ښکاروندی دی چې خبراتری یوازی بایددطالبانوپه ګډون سره صورت ومومی چې دناامنیودپای ته رسولودپاره تیار دي .
دغه انګلیسی ورځپاڼی په دی هکله ولیکل : په افغانستان کې یوشمیر سرچینی دغه جنګجالی خبراتری يې منلی دی اوتېنګار يې کړیدی چې دوی تیره اونی يې په دی هکله يې اطلاع ترلاسه کړی دي .
په کابل کې دافغانستان دیویجګپوړی چارواکی داعلان پربنسټ ،دسرکال ددوبی په ناامنیوکې دطالبانو په غوښتنوکې توپیر،ددغه عواملوسبب دخبراترو په دوام ورکول کې ښودل سویدی . دافغانستان ددولت یوتن مشاور ددی خبراترو په جریان باندی پوه اوخبروو،هغه وویل چې طالبان تل خپلی غوښتنی اړه وی اومدام يې وخپلوغوښتنوته بدلونه ورکړی دی . دغه افغان جګپوړی چارواکی زیات يې کړ: ددی خبراترودموخونه یوهم داسامه بن لادن دالقاعدی دمشر اودطالبانوترمنځ دیوی سوری رامنځته کیدل دی .
همدارنګه تیره اونی دفرانسی لمړی وزیر"فرانکو فیون" په خپل پارلمانی وینا اوبیانی کې په مستقمه اومخامخ توګه سره ودی خبراتروته يې اشاره وکړ.ده په دی هکله توضیح ورکړ: موږبایدداهسی لاری ولټو هغه کسان چې ډېر دملی جنبشونو اودقبیلوی فعالیتونودپاره کار کوی هغوی دنړیوال جګړیزوډلوڅخه جلا کړو اوپه دی هکله دا اوس دسنی مذهبه مسلمان هیوادونه دهغه جملی څخه سعودی عربستان زیار باسی ترڅودغه کار ترسره سی .
آبزرور ولیکل په افغانستان کې دسرکال ددوبی جګړه دهغه نیټی نه چې پردی هیواد باندی په (۲۰۰۱) م کال کې یرغل سویدی دډېروناامنیواوناآرامیوڅخه شمیرل کیږی .
همدارنګه ترمخه تر د ی هم دا ډول مخامخ اړیکی په ټیټه سطحه دطالبانودقوماندانوسره صورت موندلی وو ،اما دسعودی عربستان په نوښت دطالبانوسره خبراتری دا لمړنی پیل دی .

دغه انګلیسی خپرونه ددی مطلب په ادامه ولیکل : دغه خبراتری دسرکال په دوبی کې پیل سویدی دافغانستان ددولت په بلنی سره دسعودی عربستان په منځګړیتوب سره دغه خبراتری پرانستل ســول .ددی خــبراتروارېکی ورونکی کس څــواوني دی چې دواړوخواوودخبراترود
موضوعاتوداجندادسرلیک دنه منلواومنلو(ردولواوتائیدولو) دپاره دکابل اوریاض دپلازمینواودپاکستان دکویټی دښار(په سویل لویدیزکې دطالبانودشورادمشرتابه ) ترمنځ په تګ اوراتګ کې یې تیر کړی دی .اودغه اړیکی ورونکی کس دانګلیس دبهرنی چارودوزارت دچارواکو اودانګلیس دامنیتی استخباراتو دکارمندانوسره یوځای ولندن ته یې سفر وکړاوپه همدی ډول دسعودی عربستان یوهیئت هم په دی اړه دکابل نه یې لیدنه وکړ .
ویل کیږی چې طالبانو(۱۱)غوښتنی یې ،ددی دښمنی ګاناوودجګړی دپای ته رسولی دپاره وړاندی کړی دی اوپه دی وړاندیزونوکښې دکلیدی اواساسووزارتونواودباندیوځواکونودپلان سوی وتلوغوښتنه هم سویدی دغه شرطونه اوغوښتنی دطالبانولخوا څخه وړاندی سویدی .
دغه انګلیسی ورځپاڼی ددی ریوټ پربنسټ زیاتوی :دافغانستان دجمهور رئیس «حامد کرزی» دملی امنیت مشاور«زلمی رسول» دافغانستان ددولت اودطالبانوترمنځ ددغوخبراترومسؤول وو.
آبزرور همدارنګه دکرزی دهغه لیک څخه چې دسرکال په دوبی کې وګلبدین حکمتیار ته یې ورلیږلی وو هم یادونه کوی چې ددی لیک دورلیږلونه هم اطلاع لری اوپه همدی ډول سره تیر کال کرزی اعلان کړی وو چې دګلبدین حکمتیار اودطالبانو دمشر ملا محمد عمر سره دمخامخ خبراتروهرکلی کوی په دی ترڅ کې ویلی وو چې دولتی لوړی څوکی به هم ددوی په واک کې ورپریږدی .

**په داهسی حال کې ددی موضوع خبر خپریږی چې تیره اونی دانګلیس دبهرنی چارودوزارت ویاند اعلان وکړ چې دسعودی عربستان دهیواد ددی نوښت څخه اطلاع نلری ،مګر دانګلیس دولت په فعاله توګه دافغانستان د دولت د پخلاینی دپروسی څخه ملاتړ کوي .**

**همدارنګه ددی موضوع په اړه :**

## دفراسنی دخبری آژانس په حواله حامد کرزی دسعودی عربستان څخه و غوښتل چې دطالبانوسره دی دسولی په خبراتروکې ګډون وکړی !



**حامد کرزی تیره اونـــی په یوی خــبری کنفرانس کــــی دسعودی عربستان څخه وغوښتل چې دافغانستان ددولت اودطالبانوترمنځ دی دسولی په خبراتروکې د منځ غړی په توګه ګډون وکړی ، کــرزی وویل تراوسه پــوری خبراتـــری ندی پیل ســـوی اما دافغــــانستان استازی د سعودی عربستان اوپاکستان وهیوادونوته یې په دی هکله سفرونه کـــړی دی ترڅو ددی پیښی دجــریان نه ددغه هیوادونه مشران خبر کړی .**

**دافغانستان داسلامی دولت جمهور رئیس وویل په دی دوه تیروکالنوکښې ما دسعودی عربستان وپاچاته لیکونه اوپیغامـــونه ورلیږلــی دی اودده نه مې غوښتنه کــړی وو ، ترڅـــوزموږ سره په افغانستان کې دسولی په رامنځته کولو کې مرسته وکړی .**

**دافغانستان جمهورئیس وویل : دخبراترودپاره آماده ګی اوتیاری دورځنی اړتیاوپربنسټ پر مخ روانه ده زموږ استازی څوځلی و سعودی عربستان اوپاکستان ته سفرونه کړی مګر تر اوسه پوری مخامخ خبراتری ندی پیل سوی .**

**کرزی دغه خبری په داهسی حال کې وکړی چې د آبزرور ورځپاڼی څو ورځی مخکې په یورپوټ کې ولیکل : دسعودی عربستان هیواد دمنځ غړی په توګه په پټه دطالبانوسره یې خبراتر ی پیل اوپرانستی دی ترڅوپه ا فغانستان کې ننی ګواښونه اوروان کړکیچ پای ته ورسیږی .**

# انتي‌وار په يو رپوټ کې وليکل :

# امريکابايددالقاعدی څخه وبيريږی،نه دطالبانوڅخه !

**اوس دامريکا زيارپه څرګنده اوښکاره توګه دپاکستان په خاوره کې ديرغلونوترسره کول ، دبوش دنوی استراتيژی يوه برخه دطالبانواودالقاعدی دځواکونوپرضد دی . ډېرکالونه دی چې ويل کيږی چې اسامه بن لادين او دالقاعدی وتلی مشران په دغوسيمو کښې ځانونه يې پټ کړی دی .**

**دانتی واردا نټرنيټی خبری شبکی په حواله سره ،بالاخره امريکا پريکړه وکړه چې دپاکستان په خاوره کې دټروريستانوپرضديرغلونه په دی هيواد کې ترسره کړی اودامريکا دهيواد دغه پيل نه يوازی داچې دپاکستان ددولت لخوا په کلکو ګوتنيونو سره رامنځته سوبلکی داهسی ليدل کيږی چې په پاکستان کې يې تاوتريخوالی هم ډېرکړيدی**

**.**

**دسپټامبر ديوولسمی (١١می) پيښی نه راوروسته دالقاعدی دمشر اسامه بن لادن تښته دافغانستان څخه وپاکستان ته ،دامريکا دولت په جدی توګه يې زيار ويست چې په افغانستان کې دټروريسم ريښه په هراړخيزه توګه سره دمنځه يوسی او وچ يې کړی ،دا په داهسی وخت کې وو چې ددی موضوع په هکله يې په هغه وخت کې هيڅ ورته پام ونکړچې دټروريسم اصلی ريښی په پاکستان کې دی . دواشينګتن غير اصول پيل اوکړنی ددی سبب وګرځيدی چې دټروريستی پيښوپه شمير کې چې دټروريستانولخوارامنځته کيدی دغه شميره راکښته نه سی اومخ پرډېريدو سی ،اودغه ټروريستانووخپلوعملياتوته په همدی ډول سره ادامه وکړی .**



**دامريکااودهغه دملګروهيوادونوسياسی تير وتنی ددی سبب وګرځيدی چې دسپينی ماڼی داصلی موخی اوتوجوڅخه پرته، استخباراتی اواطلاعاتی سازمانونه اومځکنی ځواکونه داسامه بن لادن اودالقاعدی دنورومشرانودوژلواودنيونو څخه لاس واخلی ،خکه ددی اووکالونوپه موده کې ،واشينګتن چې دډېرو لويواوغښتليو اطلاعاتی مرکزونوخاوند دی ونه سوای کړای چې اسامه بن لادين ونيسی .**

**په دی هکله يو سوال رامنځته کيږی : ايا امريکا نه غواړی چې بن لادين ونيسی اويا نه سی کولای چې دغه کار ترسره کړی ؟ .**

**داهسی معلوميږی چې دامريکا دولت داسامه بن لادن او دالقاعدی دډلی سره دمبارزی موخی اوهيلی نلری اوډېر برخه د دغې مبارزی دطالبانو دځواکونوپه وړاندی ترسره کيږی .**

**دامريکايی چارواکو دويناوپربنسټ په پاکستان کې دامريکا ديرغلونو دډېريدواصلی دليل دطالبانودپټيدواوپټنځايونودامن د ځايونودمنځه وړل دی ترڅوچې وکولای سی چې دطالبانودنفوذ اودورتګ څخه دافغانستان وخاوری ته مخنيوی سوی وی .**

**داهسی ليدل کيږی چې د سپينی ماڼی جګپوړی چارواکی هير کړی دی چې اسامه بن لادن اوالقاعدی يوولسم (١١) دسپټامبر يې رامنځته کړاوبيا هم څرنګه چې ليدل کيږی دامريکا يرغليز سياست په**

**پاکستان کې ددی سبب وګرځېدی ترڅووسلوال طالبان په افغانستان اوپاکستان محبوبیت ترلاسه کړی .**
**همدارنګه امریکا بایدوپوهیږی چې په پاکستان کې دافراطیونو زیاتیدل اوډیریدل ترپخوا نه ډیرخطرناکه دی ځکه چې دغه هیواد آتومې اوهستوی وسلی په واک کې لری .**
**دسپنی مانی جګپوړی چارواکی ښه پوهیږی چې داپخپله امریکا ووچې ددغی ډلی لکه القاعدی په رامنځته کولواوجوړه ولوکې یې مرسته وکړنوپس امریکا دی ددی سبب ونګرځی چې په نړی کې دی یوداهسی نوی ګواښګر ځواک دی رامنځته سی .**



**په افغانستان اوپاکستان کې دطالبانودبریاو دمخنوی په خاطر چې طالبانویبوړاندیزکړی چې دامریکا اوائتلافی قواوتوله ځواکونه دی دافغانستان څخه ووځې اوفقط یولږشمیر مخصوص ځواکونه دی په افغانستان کې پاته سی ترڅوداهسی شرایط رامنځته سی چې بن لادین اودالقاعدی نور نامتومشران دی دخپلوپټوځایونوڅخه راووځې اوددوې تعقبولو دی په ډیره اسانی اوساده ګې سره صورت ومومې .**
**واشینګتن باید ودی نتیجی ته ورسیږی چې په افغانستان اوپاکستان کې پروسلوالوطالبانو باندی بری اوددوی پرضد جګړه اویوازی نظامی کړني ،دحل لاره نه ده باید اطلاعاتی چاروته زور ورکول سی .امریکا یی چارواکی کولای سی پردی موضوع باندی سوچ وکړی چې طالبان ودی ته وداره کړی ترڅو دبهرنی ځواکونوسره دجګړی نه لاس واخلی اوهغه څه چې طالبان یې په پاکستان کې غواړی هغه دی دوي ته ورکړل سی اوپه همدی ډول سره بن لادین اودهغه ډله دی منزوی اوځانله سی .**
**د(۲۰۰۰) ددوزرز کال په پای کې وروسته دسپتامبر دیوولسمی (۱۱می) نیټی نه هغه وخت چې بن لادن دامریکایې خواکونودبهیری نه دتښتی په حال کې وو،هغه په ښکاره ډول سره افغانانوته یې پیسی ورکول ترڅووده ته اجازه ورکړی چې دی دي وتښتی . نوولی امریکایانو ونه سی کولای چې دبن لادن دنیونواوددستګیری اودهغه دوژلودپاره وافغانانوته ډول ډول امتیازات ورکړی ؟.**
**امریکایی چارواکی باید دبن لادن اودالقاعدی دنورومشرانودنیونواوددستګیری دپاره دطالبانووغږوته ووایی چې دوی څه غواړي .**
**یوشمیر وایی چې دطالبانوغوښتنی چې هر څونی لوړ هم وی مهم ندی مګر دبن لادن اودالقاعدی دنورړمشرانونیونه اوډستګیری ډیر مهم دی .**
**په حقیقت کې دطالبانوغوښتنی تر هغه د(۵۰۰۰۰۰۰۰) پینځوسومیلیونوډالروجایزی نه ډیرزیات دی چې دامریکا ددولت لخوا دبن لادین دپټنځای اودنیونودپاره اعلان سویدی اما بیا هم دغه شمیر پیسی (ډالر) کیدی سی چې دطالبانودډلی دپاره مناسبی پیسی وي .**

دبوش دولت  لیری دی ،چې په دی پاته څومیاشتوکې په ټولیزتوګه وسی کولای چې د بن لادن په نیونو او وژلوکې بریالی سی . ځکه دبوش سیاستونه دلمړی  سرڅخه  دټروریسم پرضد د جګړی داصولو سره یې په ریښتونی ډول سره ډېر اوږد واټن درلود .
باید ورته منتظروه وسو اووینوچې دامریکی نوی دولت  دبن لادن دنیونودپاره څه ډول طرحی او وړاندیزونه دځان سره ولری .مسلماَ که سپینه مانی په جدی توګه په دی هکله کړنه ونکړی نومخکـی ترمخکـې کـولای سو وړاندوینه وکـــــړوچـــــې په امریکا کې دسپټامبر د(۱۱می) یوولسمی  پیښی په شان  یوه بله پیښه به  رامنځته سی .

# ملاعمر دافغانستان څخه دبهرنی ځواکونودوتلو غښتوونکی سو



ملاعمر ددی غښتوونکی سوچې  دافغانستان دخاوری څخه دی بهرنی ځواکونه په بیړه سره ووځی .
دالجزیری دانټرنیټی سایت په حواله  ملامحمدعمر دطالبانودډلی مشر په یوپیغام کې چې ددی ډلی دپلویانوپه یوانټرنیټی سایت کې خپور سوی دی ، دامریکا اودشمالی انلانتیک (ناټو)دځواکونه څخه یې غوښتی دی چې هرڅونی ژر دی دافغانستان دخاوری څخه ووځې .
ملاعمر همدارنګه  ودی ځواکونوته یې ګوت ځندنه کړی او  ویلی  یې دی  که بهرنی ځوانونه دغه ګوت څندنه ونه منی نودډېردرانده ماتی سره به مخا مخ سی .



 د الجزیری دانټرنیټی سایت  په حواله، ملاعمردطالبانودډ لی مشر په دی پیغام کې  دبهرنی ځواکونوڅخه یې غوښتی دی چې  دخپلو پریکړو دتیروتنو  په ترځ کې یې ، افغانستان تر واک اوښیکلاک لاندی راوستی دی ،نودغه دی خپل لړ لید واړه وی  ترڅومناسب فرصت  ددی ځواکونودوتلودپاره دافغانستان دخاوری څخه  رامنځته سی .
ملا محمد په ټینګارسره وویل که دښکیلاکګروځواکونوښکیلاک په افغانستان کې پایښت وموموی او ادامه ولری دغه ځواکونه به دماتی سره مخا مخ سی .



**دطالبانودډلی مشر  توضیح کړ چې دغه ډله هیڅکله هم دهیڅ چا دپاره په نړی کې  خطر نه ګڼل کیږی .**
**داپه داهسی حا ل کې دی چې دافغانستان په سویلی سمیه کې ائتلافی  ځواکونه  دیوی بیانی په خپره ول سره   دیومین دچاویدوله کبله ددی ځواکونودروتنودوژلوکیدوپه هکله  ددوشنبی په ورځ خبرورکړ.**




**په روان کال کې  په افغانستان کې دطالبانود ډلی نفوذ دډیریدواوزیاتیدوښکارندوی دی  اوڅرنګه چې په سږ کال کې  تر اوسه پوری دامریکایی وژل سوی  سربازانوشمیره ،پر افغانستان باندی دامریکا دیرغل دلمړی نیټی څخه د(۲۰۰۱) میلادی کال څخه بیا تر تیر کال پوری سږکال  ډېرتره دی .  /**

پورتنی مطالب دلاندنی ادرسونوڅخه  اخیستل سویدی
- فارس نیوز څخه
- دایسنا څخه –
- ایرنا نیوز